مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۳/۰۲/۱۱

# د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

## څلورم ټوک، مزار شریف
## او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلو یونویمه برخه
تصحیحات:
ډاکټر لوډویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

* **پښتون کوټ**: پشتون کوټ: دا د میمنې ګرد چاپیره یوه ولسوالي او یوه کلی دی چې ۳۳۳۹ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو ئـې د وګړو شمیر له ۵۲۳۹۴ تر ۵۷۶۶۳ پورې اټکل کړی دی. د دې ولسوالۍ کرښې: لویدیځ: د قیصار او المار ولسوالۍ، شمال: د شیرین تګاب، ختیځ: د بلچراغ ولسوالي، سویل: د کوهستان ولسوالۍ ګانې. د پښتون کوټ ولسوالي ۱۷۲ کلي لري چې ۴۰ کلي ئـې له ۵۰۰ ډیر وګړي لري. لنډ مهال مجلې د دې کلیو نومونه په دې ډول لیست کړي دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ملایان | میان جوی | دروازهٔ یماق سراج | بیدک شریف |
| سر حوض | امام صاحب | کوهي خانه | بلوچ شاهٔ نادر |
| شاه قل سر هنګ | شاه نظر | راهٔ خواجه مراد | مش مست |
| جیج | سیر کته بولي | حیدري قوقه | توتکي هزار سم |
| توکلي هزار سم | شور چاه | غل موري یک شمبه | چکاب عبدالرحمن و قاسم |
| تور پغتو | شاه بختوی خشت پل | کوهٔ پشه خانه | تور مه دان |
| زیارت ګاه | توت بغله | حلوا خور | قوقاني |
| بیتو بالا | هودک | قوروق بګیت | قزل قلعه |
| پوکاني یماق | سم لکِ پوقاني | کاریز للمي | عرب آق سای |
| بد قاقِ غر تپه | سید رجب | بخش سید علي | قزلیقِ آق چشمه |
| قوتور | جمشیدي | ګل خانه | بلوچ روزي قل |
| قصاب قلعه | سنګِ زرد | پیر خشت | اینجلد |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| دِه عزیزان | لقمان افغانیه | قیل نی | جی وانی |
| میان دره | شاه قاسمي | چهار توت | فوقاني |
| علیقه | تایلان | قفلان دره | گردي – ی – میر شکار |
| قوق تل | خواجه دانه | هزارهٔ میر شکار | دیوانـهٔ براتي |
| قزل قول | کمرک میر شادي | پوگاني لقمان | تاوه قلعـهٔ زر شوی |
| قیمه قلعه | خوس موس | سلمالیق | کله لق |
| قولوق | آته خان خواجه | بتو پائـینِ جر غیتو | سربولاق |
| بوجه | هزاره قلعه | زر شوی قربان علي بیر سای | سر تراش |
| یم بولاق | پشه خانـهٔ حضرت قل | حسن بولاق | جرگون |
| خواجه قشلاق | پشه خان | گدای قلعه | کاریز قلعه |
| افغان کوټ | خواجه قل | بازاري | دهان دره |
| کته قلعـهٔ ناموسي | کته قلعـهٔ کینجه | ارباب عزیز آباد | قلعـهٔ نیاز بیگ |
| سوک کریم | تختِ زغن | زر شوی رحیم | جوزک |
| آق دره | چرمگر چشمه | چقمق | سرچشمـهٔ لنگر |
| نادر آباد وگنداب | گل قدون | خواجه قریشي | چغه تک |
| قریـهٔ غار تپه | مالي ناموس/ محله ناموس | قنچغ علي | بادغیس |
| تکه توزي | عزیز آباد | یک درخت | قافِ میر شکار |
| بیدکِ الله نظر | چقربولاق و گلدره | شبختوی پشه خانه | خواجه قریشی افغانیه |
| شاه فولاد | یم بولاق | دِه سیدان | ارلت خانه |
| سید رجبِ علیا | درهٔ آخزي | آق مشیت | موچین |
| نجک | یزدان طلب | عمره | ظلم آباد |
| یان قلعه | جرقلعه | قلیغ | چین قلعه |
| توخچي | سید نقي | سیدالله قل | براتي |
| ابدال- ی – پشه خان | قردي قلعه | ایتي سلوق | یکه خانه |
| قدل قشلاق | ایتی اورق | قرغه چي | درقک |
| جیواني | موخي تورک | موچني | دربند |
| ارَچ تو | آق گنبد | خوش بای | اقسای |
| قوش قونق | شور قل | اودک | برات |
| خواجه قل | بیدک – ی- شریف-ی- سفلی | خشت پُلِ مؤمن | قلهه گان |
| توکلِ ناموسا | یم بولاق ادران | شوره | حوض ماران |
| بندرِ سلیمان | بندر عبدالباقي | ملقي | آق چشمه |

**پاسِ کاف**: ـ ۳۶، ـ ۶۷: دا یو خط الرأس یا غرنی لړی ده چي د ایتم کوه په شمال کي غځیدلي ده.

**پاسِ قلعه**: ـ ۳۶، ـ ۶۸: دا له ایبکو تقریباً ۱۹ مایله پورته په سرِ باغ کي د دري ختیځ لور کي په غرونو کي یوه تشه ده. له همدي ځایه یوه لاره خواجه قلعه او حضرتِ قمبر ته د کج گردن د کوتل له لاري تللي ده. (اي. بي. سي.)

**پاسِ کوه**: ۷ – ۳۵، ۲۳ – ۶۶ (ن): دا د بندامیر د ځانگي پر غاړه د سولیچ د شمال لویدیځ په تقریباً ۷ مایلی کي یو کلی دی.

**پاس کنده**: پس کنده : ۱۱ – ۳۶، ۴ – ۴۸: دا د تاشقرغان د سیند پر کیني غاړي له ایبکو تقریباً ۵ مایله پورته یو کلی دی. (اي. بي. سي.) *اوسنی نقشي د «سرِ کندهٔ پائـین» او څو مایله سویل خواته ئـي د «سرکندهٔ بالا» نومونه ښیي.*

**پاس قل**: ـ ۳۶، ـ ۶۷: دا د بازارک د دري پورتنی برخه ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

**پس کوچه**: ۲۹ – ۳۵، ۴۸ – ۶۷ : لوړوالی: ۹۶۰۰ فیټه. دا یو کوتل دی چې له دره کوتل څخه تر «دره یوسف/ صوف په درې کې –ژ) پورې لاره ورځخه د شیشه ولنګ له لارې تیریږي. ګریسباخ چې د ۱۸۸۶ز کال د اپریل د میاشتې په ۲۲

نیټې له دې ځایه تیر سوی دی وایي:

" له خورکِ بالا څخه تر «مدر» پورې مارش ډیر سخت دی ځکه چې د لارې په اوږدو کې دوه لوړ کوتلونه دي چې له دواړو باید تیر سئ او له کله چې زه په دې لارې روان وم دواړه کوتلونه په واورو پوښلي ول. دا لاره د خورکِ بالا له کوتل څخه د درې ختیځ لور کې او د سیند ښي لاس کې ده. له درې ۲/۱ ۲ مایله کښته یوه لاره یا یوه ډیره نرۍ لار سویل لور ته جلا کیږي او د هغو درو پر یوې ډډې باندې ورخیږي چې په هغه سیند اړه لري چې د قره کوه له غرنۍ لړۍ څخه سرراپورته کوي. له خورک بالا څخه د درې کښته لور ته په تللو سره وروسته له تقریباً شپږو مایلو دو آب رارسیږي.

" له درې یو مایل پورته چې موږ وختلو ما دوې کوچنۍ درې وموندلې چې د قره مرد یا د قره کوه په واورو پوښلې غرنۍ لړۍ په لمن کې یو ځای سوې وې. پر هغه لاره چې زه راغلی وم له همدې ځایه سویل ختیځ ته ځي او په پای کې مخکې له دې چې شمال ختیځ لور ته لومړني کوتل ته ورسیږي مخه ختیځ ته تاووي.

" د قره کوتل له لړۍ څخه شمال لور ته څو مهمیزونه راوتلي دي؛ له یوۀ مهمیز څخه ئې د پس کوچه کوتل (۹۶۰۰ فیټه) لوړ تیر سوی دی. ما ته ئې ختل ستوغ خو سخت نـۀ ول؛ خو په ځینو ځایونو کې ځمکه ډیره نرمه او ان باتلاقي ده ځمکه چې واوره ئې ویلي سوې وه؛ واورو د قره کوه او پس کوچې ټولې ډډې پوښلې وې خو ویل کیږي چې واوره د جون په میاشت کې ورکه کیږي. همدغو شاو خواوو کې ټولې غرنۍ ډډې مالځرونه دي، ما ته وویل سول چې دا ځایونه د دوبې په فصل کې ټول مالځر وي؛ همدلته ان خوارۀ وارۀ پټې سته چې د پس کوچې د کوتل په بلافاصله ځای کې واقع دي او همدا اوس چې پټې په واورو کې پټ کې ځینې ئې لا وختې قلبه سوې دي.

" د همدې کوتل له سره د قره کوتل پر لور یو منظره د سړي سترګو ته راځي؛ له پس کوچې څخه یوه لویه متموجه په شنو وښو او بوټو پوښلې دره ختیځ لور ته ځغلي چې د کوتل له څخه څو سوه فیټه کښته ده. د دې درې کینه خوا (شمال لور) کې (په وښو او بوټو پوښلې) لړۍ ده چې د خورکِ بالا د درې ښۍ اړخ جوړوي او ښي لاس ته (سویل لور ته) د قره مرد یا قره کوه ستره دنګه غرنۍ لړۍ راپورته سوې ده چې شمال لور ته تقریباً یو لوړ عمودي شیب د سړي سترګو ته ږدي."

"د (پس کوچه) د کوتل له سره یوه لاره سویل لور ته جلا سوې چې د مدار لویدیځ کې، د (دورو) «دو راه» کلي ته تللې ده او په پای کې د راجګاه دره ده له دې کلي پورته واقع ده ؛ دا لاره اوس د واورو له کبله د تګ نـۀ ده."

د قره کوتل پائـین لاره ختیځ لور ته او مخامخ هغې پراخې درې ته ځي چې د کوتل له سره ښکاري. (ګریسباخ)

**پس قدوق**: ۲۲ – ۳۶ ، ۲۰ – ۶۷ (ن): دا یوه پوونده ده چې درې څاه ګانې هم لري او د قدوق ملا شریف د لویدیځ په تقریباً ۲/۱ ۳ مایلې کې واقع ده. په دې نامـۀ یو کلی د بوینقرې د شمال ختیځ په تقریباً ۵۰ مایلې کې واقع دی.

**پاس ملور**: پس ملور: ۳۰ – ۳۵، ۴۹ – ۶۴ : دا د بند تورکستان پر سر یو کوتل دی چې د مرغاب له درې څخه د تیلان تر تنګي پورې لاره ورځخه تیریږي او د بندر – تیلان لاره ورځخه تیریږي. هیراسینګهـ دا کوتل په لاندې ډول شرحه کړی دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

" د بندِ تورکستان یوه لوړه برخه ، ختیځ لور ته د یوۀ لوړ اوب یللونکي له لارې (بندِ قرمه) امتداد مومي. په ۲/۱ ۱ مایل کې د لاورلاش له قشلاق څخه د تیلان لاره کین لور ته جلا سوې او مک ته ځي.

" لاره ښـۀ ده؛ د سنگِ قدح گردن تر سر پورې لارې چې ۳ مایله کیږي د ختلو ثابت لوړوالی لري. ختل آسانه دي خو لاره په کاڼو او ډبره ډکه ده. لوړوالی ۶۰۰ فیټه. له لاورلاش څخه تقریباً ۳۰۰۰ فیټه. وروسته لاره متموجه کیږي او تر اوب یللونکي پورې چې ۲/۱ ۲ مایله مزل دی لاره ثابت لوړوالی لري. د لارې یوه ټوټه له رسیدلو مخکې ډبرینه ده. دا ځای د اوښانو لپاره ډیر بد دی او کار ته اړتیا لري چې سمه سي. له گردن سنگِ قدح څخه تر اوب یللونکي پورې لوړوالی ۶۵۰ فیټه دی. دا کوتل د «پس ملور» یا «تیري» په نامـۀ یادیږي. د کوتل په لوړ سر کې د اوبو یوه چینه او د دمې نیولو یو ځای سته. له کوتله کښته کیدل د یوې تنگې ژورې درې پر لور نسبتاً سرځوړي دي، لاره د کچرو لپاره ښه ده خو د اوښانو د تگ لپاره په دریو ځایونو کار ته اړتیا لري. په یوۀ ځای کې ډبره نرمه شگلنه ده خو په دوه وو نورو ځایونو کې ټینگه توره ډبره ده. له اوب یللونکي څخه له ۲/۱ ۳ مایل وروسته لاره ښه کیږي او په یوې آسانې تشې ورکوزیږي چې ښې لاس ته کږیږي. دلته د کمپ لپاره ښه ځمکه سته. کین لاس ته د غرونو پر سر یوه لاره تللې ده؛ خو د کچرو لپاره ښه لار نـۀ ده. (په شپږم مایل کې له ښي لوري یوه دره راځي. له همدې ځایه مک ته یوه ښه لاره تللې ده یا ویلای سو دوې لارې تللې دي خو له ۵ مایلو وروسته سره ویشل کیږي، ښي لور ته لاره ئـې سویل ختیځ ته د مک تگاو ته (تر گرزان ځي چې په نهم مایل کې رارسیږي.) ظاهراً دا لاره د اوب یللونکي په ډیرې آسانې برخې پورې منتهی کیږي. له هغـۀ ځایه چې لاره په مک ننوځي تر لاور لاش پورې باید ۱۳ مایله وي او د سرِ اوزم له کوتله په تیریدلو سره لاره باید تقریباً ۱۴ مایله سي. بله لاره لږ و ډیر د اوب یللونکي د سر په اوږدو کې او بیا د اوزم کوتل ته ځي او ۱۸ مایله اوږده ده. ویل سوي چې دا دواړه لارې د اوښانو د تگ لپاره ښې دي.) پورته یاده سوې مستقیمه لاره نیغه په هغـۀ کلي منتهي کیږي چې د لوړې سطحې پر سر واقع دی او لار له دې ځایه وروسته د تگاو پر لور نسبتاً سرځوړی تگ لوری نیسي. په تیلان کې د وزبیکانو (او فیروزکوهیانو) ۱۰۰ کورنۍ دي. دلته ډیره ښه کرهنه هم سوې ده. اوبـۀ او واښـۀ ئـې پریمانه دي؛ لرگي په سویل لور کې له غرونو تر لاسه کیدای سي. له تیلان پورته د کمپ لپاره ځای سته خو په کلي کې ځای نـۀ سته."

هغه بومي سروې کوونکي چې له بند تورکستان څخه یا د دې کوتل له لارې یا د بل کوتل له لارې چې ورته نیږدې دی تیر سوي دي دا د قرمه کوتل په نامـۀ یادوي. دوی وایي چې د ختلو لاره ۲ مایله اوږده ده او نسبتاً آسانه او د اوښانو د تگ لپاره عملي ده. د تیلان پر لور د کښته کیدلو لاره د تقریباً یوۀ مایل لپاره ډیره سر ځوړې او په ندرت سره د اوښانو د تگ لپاره عملي ده. (اې. بي. سي)

**پته کسر** : هزاره توغي: ۱۲ – ۳۷، ۱۳ – ۶۷ (ن): لوړوالی: ۹۰۰ فیټه. دا د اکسوس پر غاړه یوه جاله ده چې له چوشکه گذر څخه تقریباً ۳۷ مایله پورته، له خشت تپې څخه ۶۳ مایله کښته او له مزار شریف څخه ۳۶ مایله لیرې واقع ده. پته کسر د «پادا د پریک سوې ونې په معنی ده» [پادا د سپیدار ونه ده – ژ] "کسر" تورکي لغت دی چې د «پریک سوي» په معنی دی. (پته) یا (پادا) د زرغون یعنی ونو په معنی دی. پیکاک چې د ۱۸۸۶ز کال د جون په میاشت کې پته کسر ته د مزارشریف د سرک له لارې ورسید وایي:-


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

"په هغـهٔ ځای کې چې سړک له سیند سره مخامخ کیږي، سیند شمال ختیځ لور ته یو ناڅاپه کږیږي او په همدې کږ لیچ کې څو داني ټاپوګان جوړوي. شګې په لویدیځ کې تر ترمز پورې، سیند ته نیږدې نـهٔ دي، او دلته د متموجې ټیټې ځمکې پراخه مثلثي ترانګه د شګو او سیند تر منځ واقع ده چې د سپیدار د ونو، د شین غزو د ونو او د درویو یا نیزارونو په ګڼ ځنګل ډکه سوې ده. د سپیدار یو شمیر ونې ډیرې لویې لویې دي او په ځینو ځایونو کې دروي هم ډیر پریږ دي. ویل سوي چې ځنګل په پرانګانو او هوسیو ډک دی. ما د خپل مارش په بله ورځ په خپله په څو ځایونو کې د پرانګانو د پلونو خاپونه ولیدل. د کال په دې فصل کې ځنګل د مچانو په سیلونو ډک وي. د دې ځای مچان هم د آس د مچانو په اندازې لوی دي، یو شمیر خو ئـې لا تر دې هم لوی دي (تقریباً یو انچ اوږدهٔ وي)، که دغه مچان آس وچیچي نو د آس پر ځان لویې لویې دانې راباسي. څو د ګوتو په شمار آسونه چې په جالې کې دي هغوی ته د مخ او سر پوښښ، نیمڅې او د نس له سره ئـې ټوکران وراغوندي چې محافظت ئـې وسي.

" د دې ځای مقابل لوري کې د بخارا د سیند غاړه ټیټه او همواره ده. د سیند غاړې ته نیږدې خواره وارهٔ کوچني کلي او قشلاقونه او په ځینو ځایونو کې وران قشلاقونه او د ونو ډلې لیدل کیږي چې ټول ئـې د پته کسر علاقه داري جوړوي او د وزبیکانو او ارسري تورکمنانو تقریباً ۲۰۰ کورنۍ په کې میشتې دي. د ونو د کمربند تر شا یو بازار دی چې د جالې پای ته نیږدې واقع دی. د سیند د غاړې د دې ترانګې شاته یوه لویه پراخه دښته ده چې له خوځندو شګو پاکه ده؛ او د همدې دښتې شا ته شمال او ختیځ لور ته له ډیر لیرې واټن څخه غرونه راڅرګندیږي چې ظاهراً ډیر لوړ دي او لوړوالی ئـې د وریځو له مخې ښکاري. د پته کسر علاقه داري له خپلونو ونو او قشلاقونو سره کرار کرار د سیند له لوی کږلیچ سره سم پټ کیږي؛ او ختیځ ته ئـې د بخارا په غاړې کې له ټیټ ټکي څخه پورته ویل سوي چې د سرخان له سیند سره یو ځای کیږي. دا سیند له دې نو څخه رابهیږي. د «توفه لان» نوم چې په زړو نقشې کې د دې سیند لپاره متبادل نوم دی په پته کسر کې کښتۍ چلوونکو ته ناڅرګند او نا آشنا نوم وو. د بخارا په غاړه کې خوځنده شګې نـهٔ سته."

"د پته کسر نوم د سیند نیږدې غاړې ته نـهٔ اطلاق کیږي بلکه د بخارا د سیند غاړې ته کارول کیږي چې هلته یوه کوچنۍ ولسوالۍ ده او د سیند د غاړې په ټولې ولسوالۍ کوم ځانګړې ټکي ته نـهٔ کارول کیږي. د سیند غاړې ته نیږدې استوګن وګړي نـهٔ سته، یوازې هغه کسان دلته ژوند کوی چې په جاله کې کار کوي چې پینځو یا شپږو کیبتیکه ګانو کې د کښتۍ د دریدلو له ټکي څخه ۱ مایل لیرې ژوند کوي. دلته له ۱۵ تر ۲۰ تنو ارسریان، یو افغان رسمي مأمور سته چې د کښتۍ حق العبور اخلي؛ د لسو تنو د قراول پر سر یو افغان دی؛ په ټولو جالو کې همدا شمیر په همدې ډول دی، دا د دې لپاره دی چې څوک له پاسپورت پرته پورې غاړه تیر نـهٔ سي.

" د پته کسر جالې ته اوس ډیر تګ راتګ نـهٔ کیږي، یوازې د مزار لپار زائـرین او سیمه ییز ترافیک وربانديې ځي راځي. له دې ځایه اوس دم مهال کوم کاروان نـهٔ اوړي خو د بخارا په خوا کې یو ښـهٔ سړک تللی (پخوانۍ لویه لاره) دی چې د ځمکې له لارې له ترمز څخه تر شیر آباد پورې تللې ده.

" سیند هماغسې چې له جالې پورته کږلیچ کې په څو ځانګو کې، په جالې کې لیدل کیږي په یوهٔ کانال کې د ۱۰۰۰ یاردو په ارتوالي بهیږي. ژور والی ئـې له ۱۰ تر ۵۰ فیټو پورې ځای ځای توپیر کوي. په اساسي کانال کې حقیقي ژوروالي باندې هیڅ کښتۍ چلوونکی د سیند په هیڅ ټکي کې نـهٔ پوهیږي؛ دوی ټول یو ځواب لري چې ۲۰ ګزه دی. په هر حال د سیند ژوروالی له هغـهٔ څه لا ژور دی چې د کښتۍ چلولو لپاره شرط دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

"همدا اوس سیند د منځني کچي سیلاب لری. شل ورځي مخکي سیند ۳ فیټه لا نور لوړ وو. وروستنی سیلاب د بارانونو له کبله وو او تر دې ډیر نور نـۀ لوړیږی. اوس د اوبو سطحه ټیټیږي خو په تقریباً ۴۰ ورځو کي به بیا خپلي لوړ ترینې کچي ته ورسیږي. سیند ډیر لږ یا هیڅکله د خپلو غاړو په همواروځمکو چي ډیرې پراخي دي نـۀ را اوړي. یوازې کله چي سیند خپلي ډیرې لوړې کچي ته ورسیږي له خپلي غاړې سره هم سطحي دښتي باندې جپه وهي. له همدې کبله ده چي سیند تل په خپل بستر کي بهیږي؛ او له دې سره سره چي سیند به په هر سیلابي فصل کي څه ناڅه ورانی پیښ کړی خو تر هغـۀ ځایه چي زه ئـي وینم او پوه سوی یم د سیند په کانال کي د منطقي زمان په حدودو کي کوم جدي بدلون نـۀ دی رامنځته سوی. په اوسمهال کي سیند په ساعت کي ۴ مایله چټکوالی لري (ښایي ۲/۱ ۴ مایله وي خو زه د اټکل له مخې ۴ مایله وایم) او اساسي کانال په ډیرې آسانی سره لیدل کیدای سي. هره بخاري بیړۍ چي په کافي اندازې ځواک او قوت ولري د سیند د اوبو په خلاف مسیر کي ان که د اوبو سطحه تر دې هم لوړه وي پرته له دې چي د بیړۍ چلوونکي ځانګړی مهارت په پام کي ونیول سي د کار کولو کومه ستونزه نـۀ لري.

" سیند د پلـۀ د جوړولو لپاره ښـۀ مساعد دی. له جالي ۴ مایله کښته بخاري بیړي حقیقتاً پرته له دې چي لاره کړه کړي په یوه کانال کي چلیدلای سي. اوبـۀ کومه انقطاع نـۀ لري؛ د سیند غاړې د اوبو تر ژیو پورې ثابتي او ټینګي دي. د سیند ښی غاړه د کیني غاړې په پرتلي نسبتاً مسلط موقعیت لري، د ترمز له شاو خوا نیولي وروسته لوړه سطحي د پته کسر پر لور په تدریج سره ټیټیږي او د سیند غاړې ته نیږدې له ۱۰ تر ۲۰ فیټو پورې لوړه یو پـټه جوړوي. په کیني غاړې کي ځنګل کولای سي د چارتراشو پریمانه اندازه چا ته په لاس ورکړي. د سیند په کږلیچ کي له جالي پورته ټاپوګان د پلـۀ لپاره ښـۀ ځایونه دي خو هلته د تیریدلو لپاره په کیني غاړې کي شګلن ګړنګونه او همدا شان په جالي کي د مالونو د کښته کولو ځای ته نیږدې ځنګل چي د ټاپوګانو تر منځ کانالونه له ځان سره وړي باید ونیول سي. په ټاپوګانو کي وني نـۀ سته؛ یوازې وابښـۀ او نیزارونه دي. د تورکستان مرکز مزار شریف پورې په پته کسر کي د سیند نسبي نیږدې والی او نسبتي تنګوالی (۹ مایله) دی چي یوه شګلنه دښته ده چي باید څوک ورڅخه تیر سي، همدا شان د چوشکه ګذر د جالي نیږدې چم ګاونډ د تیریدلو لپاره یو فرعي ټکی دی چي په شیر آباد کي د بخارا له عمومي لارې سره وصل دی او همدې ټکي یعنی مزار ته د رسیدلو لپاره پته کسر ښکاري چي له اکسوس څخه د تیریدلو لپاره ښـۀ ځای دی."

"پر دې کرښي باندې که مزار تر پوښښ لاندې ونیول سي نو د سیاه ګرد کنډوالي شمالی ژۍ د ۳ مایلو په ارتوالي ښـۀ موقعیت په لاس ورکوي. دا ځای د مخ خلاصي دښتي په زړه کي په شمال کي په دواړو جناحینو باندې د پراخي دښتي پر خط الرأس باندې مسلط دی او د ویالي اوبـۀ هم تر پوښښ لاندې راولي چي اوبـۀ ئـي د شګو له منځه راوځي. زړې کلا ګاني او زړې ودانې د استتار لپاره ښـۀ موقعیت په لاس ورکوي او وسط کي ولاړه غونډۍ چي د لارې کین لاس کي ده د یوې یا دوه وو بطریو ښـۀ لپاره ښـۀ موقعیت په لاس ورکوي." (پیکاک)

* **پاوجي:** ۲۵ – ۳۵، ۲۳ – ۶۶ (ن): دا د بند امیر د یوې ځانګې پر غاړې د بلخ آب د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۵ مایلی کي یو کلی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

* **پاوگان**: ۴۶ – ۳۵، ۴۹ – ۶۴ (ن): دا د «رودِ پسه خان[1]» پر غاړې د میمنې په سویل کې یو کلی دی. په دې نامـۀ بل کلی ۲ مایله وړاندې شمال لور ته واقع دی.

**پیغوله**: ۲۵ – ۳۵، ۲۰ – ۶۶ (ن): دا د رودِ بندِ امیر د غاړې یو انشعابي تنگی دی چې له بند امیر سره له دهانِ ایسفي میدان څخه تقریباً ۳۰ مایله کښته یوځای کیږي. داسې ښکاري چې دې ځای کې ډیره کرهنه سوې وې او د «مینگک هزاره گانو[2]» ۲۰۰ کورنۍ په کې استوگنې دي.

د دولت یار – مزار شریف سړک وروسته له دې چې له ایسفي میدان څخه ووځي له دریو کوتلونو تیریږي؛ په دغو دریو کوتلونو کې وروستی کوتل ئـې پیغوله نومیږي چې تر نورو لوړ او سخت دی. ویل سوي چې دا کوتل د هفتاد گردش د کوتل په شان دی. دا ناممکنه نه ښکاري که څه هم چې دلته دا ځای اساسي اوب یللونکي کیدای نـۀ سي. د کښته کیدلو لاره د پیغوله تنگي ته کښته سوې چې ورلاندې ئـې لاره ان تر «جرقچ» یا «ترخوچ» پورې تللې ده او په عام ډول د سیند د غاړې د لارې په توگه شرحه سوې ده. (اې.بي. سي. له بومي معلوماتو څخه.) *اوسنۍ نقشې هم دا نوم د «پې قولې» په ډول ښیي.*

* **پیشائـي**: ۵۶ – ۳۵، ۱۲- ۶۷ (ن): دا د «تگابِ ولجه قـُده[3]» په تقریباً یو مایلۍ کې د قلعه سرکاري په شمال لویدیځ کې یو کلی دی.

**پیش کس**: ـ ۳۵، ـ ۶۷: د «اوچ – ی- تاش» تنگی په یوۀ غرنې حلق بندیږي چې «پیش کس» نومیږي او د قره کوتل د غرنۍ لړۍ د کښته کیدلو د لارې له لمنې څخه تقریباً ۲/۱ ۳ مایله لیرې موقعیت لري. ۲/۱ ۲ یا ۳ مایله وړاندې شمال لور ته د پیش کس تنگه، ژوره او اوږده دره د پای کوتل له درې سره یوځای کیږي. (اې. بي. سي.)

* **پسته**: ۳ – ۳۶، ۴۶ – ۶۶ (ن): دا د آق کپروک د سویل لویدیځ په تقریباً ۶ مایلۍ کې یو کلی دی چې د بلخ له سیند څخه د گله قدوق تر تنگي پورې لاره ورته راغلې ده.

* **پیچ گاه**: ۳۰ – ۳۵، ۳۷ – ۶۷ (ن): دا د دو آب د سیند د یوې څانگې پر غاړې د دو آب له سویل لویدیځ څخه تقریباً ۱۵ مایله لیرې یو کلی دی. په دې نامـۀ بل کلی د المار د سیند د یوې څانگې پر غاړې په ۳۳ – ۳۵، ۴۱، ۴۱ – ۶۷ (ن) کې واقع دی.

* **پیریچ**: ۴۰ – ۳۵، ۷ – ۶۵ (ن): دا د «سِناب[4]» د سیند پر غاړې یو کلی دی چې د بلچراغ په سویل لویدیځ کې واقع دی.

**(دِۀ) پیرخشت: پرکش**: ۳۲ – ۳۵، ۴۷ – ۶۴: دا د میمنې په ولسوالۍ کې یو کلی دی. دا کلی د تیلان د تنگي په پورتنۍ برخې کې واقع دی او د خواجگانو او فیروزکوهیانو ۶۰ کورنۍ په کې استوگنې دي. (اې. بي. سي.) *اوسنۍ نقشې د پرکیش/ پرکش نوم ښیي او په همدې نامـۀ څو مایله وړاندې شمال ته دوه نور کلي ښیي.*

---

[1] - Rud -i- Pasakhan
[2] - Mingak Hazaras
[3] -Tagab-i-Wuljakoda
[4] - Senab stream


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**پیرمجیدي**: ـ ۳۶، ـ ۶۵ : دا د شبرغان په ولسوالۍ کې یو کلی دی. دې کلي کې د وزبیکانو ۱۶ کورونه دي او د آب سفید پر غاړې واقع دی. (اې.بي. سي.)

**پیرنخچیر**: ۳۱ ـ ۳۶، ۴۱ ـ ۶۷ (ن): دا د تاشقرغان یوه علاقه داري ده.

**پیر نخچیر**: ۳۱ ـ ۳۶، ۴۱ ـ ۶۷ (ن): لوړوالی: ۲۶۵۰. دا د تاشقرغان په ولسوالۍ کې یو لوی کلی دی چې د توتک د تنگي له لارې له تاشقرغان څخه ۱۸ مایله لیرې او له دالخاکي څخه تر مزار شریف پورې د سړک پر غاړې له دالخاکي څخه ۴/۱ ۲۲ مایله لیرې واقع دی.

د دې ځای سم نوم ویل سوي چې فیروز نخچیر دی؛ د فیروز په نامـۀ هر څوک چې وو خو دا ئـې ښکار ځای وو. دلته د میوو ښونه سته چې له ختو جوړ دیوالونه ترې راتاو دي، دغو ښونه ډیره ځمکه نیولې ده. دا ساحه مثلثي ښه لري چې د مثلث تر ټولو لوړ ټکی دې ځای ته د ننوتلو لاره ده چې د سرچشمې په منځغري کې او د میوو د باغونو د ډلې له لارې ده؛ دا باغونه په دره کې د یوۀ مایل په اوږد والي خوارۀ وارۀ دي. «کوۀ خوجه گي» له لویدیځ لورې تر درې راتاو دی. ختیځ لور ته ئـې د مولشتین په نامـۀ یوه بله غرنۍ لړۍ ده چې مخ پر سویل – سویل ختیځ ځغلیدلې او خواجه گي ته ځان رسوي. د سرچشمې د منځغري د اوبو د کښته کیدلو لور د پیرنخچیر له لارې ده؛ د کرخ د منځغري را کښته کیدونکي اوبـۀ د سرچشمې له اوبو سره یو ځای کیږي او د مولشتین په لړې کې له یوۀ منفرد غرني حلق څخه چې د توتک تنگي په نامـۀ یادیږي تیریږي. له همدې ځایه بیا د غزنیگک پر لور ځي او په یوې ډبرینې درې کې تر هغه مهاله خپریږي چې د همدې ځای تر دښتې ورسیږي.

د پیر نخچیر خلک ځانونه تاجیکان بولي خو دوی له بیلابیلو قومي سرچینو څخه دي. دوی ټولټال ۲۲۰ کورنۍ دي او په دې شمیر کې هغه کوچیان نـۀ راځي چې د سرچشمې په منځغري کې په بابه قره او نورو ځایونو کې کیږدۍ لري. (میتلند)

**پیشنگ**: ۱۴ ـ ۳۵، ۵۶ ـ ۶۷ (ن): دا د ۱۰۰ یاردو په ارتوالي یوه دره ده چې ستوغې ډبرینې ډډې لري، دا دره د سیغان په درې کې له دو آبِ میخ زرین څخه تقریباً ۷ مایله پورته ډوبیږي. د دې درې له سره د بامیانو درې ته لاره تللې ده. وگورئ: "زر سنگ" په شپږم ټوک کې. اوسنۍ نقشې دا نوم د پشنگ په ډول ښیي.

**پسته مزار**: ۳ ـ ۳۶، ۴۵ ـ ۶۵ : دا د صیاد له لویدیځ لوري سویل کې تقریباً ۹ مایله لیرې یو کلی دی. له صیاد څخه یوه فرعي لاره پستې ته راغلې ده. *په دې نامـۀ نور کلي په ۷ ـ ۳۶، ۳۶ ـ ۶۵ (ن) کې او د درزآب د شمال لویدیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې په ۵۹ ـ ۳۵، ۲۲ ـ ۶۵ (ن) کې واقع دي.*

**پیتاب**: ۴۰ ـ ۳۵، ۳۳ ـ ۶۶ (ن): دا په «دزدان دره» کې د باجگاه د شمال لویدیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی.

**پیتاوک**: ۴۶ ـ ۳۵، ۲۱ ـ ۶۷ (ن): دا د دای میرداد د سیند د یوې څانگې پر غاړې د قلعـۀ سرکاري د سویل په تقریباً ۱۰ مایلۍ یو کلی دی. په دې نامـۀ بل کلی وړاندې ختیځ لور ته ۵ مایله لیرې واقع دی.

**پل**: هغه نومونه چې په پل پیل کیږي د فارسي یو اضافت ورزیاتیږي چې د دوهم نامـۀ ځانگړتیاوې وربانديې څرگندې کړي.

**پورش: پیریچ**: ـ ۳۵، ـ ۶۵: دا د میمنې په ولسوالۍ کې یو کلی دی چې د میمنې د ښارگوټي سویل ختیځ کې او د زر کلا د لویدیځ په ۲/۱ ۳ مایلۍ کې واقع دی. دې کلي کې د تاجیکانو او وزبیکانو ۲۵ کورونه دي. (اې.بي. سي.) *اوسنۍ نقشې د پیریچ نوم په ۴۰ـ ۳۵، ۷ ـ ۶۵ (ن) کې ښیي.*


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**پورکاف**: ـ ۳۵، ـ ۶۸: دا یوه دره ده چې له دو آبِ میخ رزي څخه کښته په سرخاب کې ډوبیږي. له دې ځایه یوه سخته لاره په هندوکش کې تر «خارزار» پورې تللې ده. (وګورئ شپږم ټوک)

* **پشت سرک**: ۹ ـ ۳۶، ۵۶ ـ ۶۶ (ن): دا د صوف په درې کې کیشینده پائین ته نیږدې یو کلی دی.

**رفیق**: ـ ۳۵، ـ ۶۷ : دا د قره د کوتل په شمال کې یو ټیټ کوتل دی. وګورئ: سرخ کوتل

**رفک**: ۳۱ ـ ۳۶، ۱۵ ـ ۶۷ (ن): لوړوالی: ۶۹۳۰ فیټه. دا یو کوتل دی چې د یوۀ دنګ ګړنګ له پاسه چې له ختیځ لوري د شادیانو تر ټیټې ځمکې راتاو دی او د مزار شریف سویل ختیځ کې مالمول ته لاره ورڅخه تیریږي. دوې لارې دي چې له شادیانو او مالمول سره یو ځای کیږي یعنې د رفک د کوتل لاره چې ۴/۱ ۷ مایله اوږده ده او له یوې ټیټې اوږدې لارې څخه راغلې ده او له شادیانو څخه د شادیانو له کلي څو مایله کښته وځي. د دې لارې په هکله شرحه (وګورئ رنجنګ) چې اوږدوالی ئـې ۴/۳ ۱۴ مایله دی. پورتنۍ لاره له پلیو کسانو پرته چې هغوی هم په ډیرې سختۍ ورباندې ځي د نورو لکه د څارویو د تګ د لپاره اصلاً عملي نـۀ ده.

دا په درېو بیلابیلو ځایونو کې د همالیا په شان له ډبرو جوړه لاره ده چې لرګي ئـې ورباندې ایښي دي.

میتلند اټکل کوي چې د دې لارې تر ټولو لوړه برخه له شادیانو څخه په ۲/۱ ۱ مایل کې ده. لوړوالی: ۱۲۳۵ فیټه.

د ملمول پر لور د اوبو د راکښته کیدلو ډډه له اوب یلوونکي څخه یو ناڅاپه پیل کیږي او دره هم په همدې لور کې تښتي. خو همدا ځای دی چې لاره ورڅخه تیریږي. دا درۀ دو شاخ په نامـۀ یادیږي.

له اوب یللونکي څخه کښته کیدل د بارومتر له مخې په ۴/۱ ۲ مایلو کې ۱۰۳۵ فیټه دي چې شیوه والی ئـې ۱ په ۱۴ کې راځي.

ملمول ته د کښته کیدلو په لړ کې لاره په یوۀ طبیعي تونل ننوځي چې چت ئـې دوه یا دریو راغورځیدلو سترو ډبرو جوړ کړی دی چې په یو بل کې بندې پاتې دي. دا تونل د «کوۀ شګاف» په نامـۀ شهرت لري چې یوازې څو یارده اوږد دی خو کښته کیدل ورڅخه ډیر سرځوړي دي او په طبیعي ډبرینو پټه پایو کې چې ناهمواره دي تر سره کیږي. دلته ټول آس سپاره باید د آسونو له سره راکوز سي ځکه چې لاره آسانه نـۀ ده ان د بار وړونکو آسونو لپاره کښته کیدل آسانه نـۀ دي خو له نیکه مرغه چې د پټه پایو په شان ډبرې ښویې نـۀ دي. د تونل لوړوالی له ۶ فیټو ډیر نـۀ دی او ارتوالی ئـې ښایي ۸ فیټه یا لږ څه ډیر وي. دا تونل د هغو څارویو د تیریدلو لپاره نـۀ دی چې پوره بار سوي وي.

* **راګک**: ۵۲ ـ ۳۵، ۵۰ ـ ۶۶ (ن): دا د تونج د سویل لویدیځ په تقریباً ۵ مایلۍ کې یو کلی دی.

* **راهي**: ۳۹ ـ ۳۵، ۴۳ ـ ۶۴ (ن): دا د میمنې په سویل کې یو کلی دی او د هغه سیند سرچینې ته نیږدې واقع دی چې شمال لور ته د میمنې سیند ته ور بهیږي.

**رحمن**: وګورئ: مالمول (تنګی)

**رحمت آباد**: ۲۶ ـ ۳۶، ۰ ـ ۶۷ (ن): دا د مزار شریف د ولسوالۍ د چارکنت په علاقه داري د مزار شریف د ښارګوټي سویل کې یو کلی دی. دې کلي کې د وزبیکانو ۱۰۰ کورنۍ استوګنې دي. (اې. بي. سي.) *په دې نامـۀ بل کلی له مینې څخه تر اندخوی پورې د تللې لارې په اوږدو کې په ۱۸ ـ ۳۶، ۵۳ ـ ۶۴ (الف) کې واقع دی.*

**رحمت آباد**: ۵۰ ـ ۳۶، ۳۶ ـ ۶۶ (ج): دا د بلخ شمال لویدیځ کې «نهر چهاربولک» ته نیږدې یو کلی دی چې د تاجیکانو ۳۰ کورونه په کې دي. (اې.بي. سي.) دا کلی د وزیرآباد د لویدیځ په ۲۲ مایلۍ کې واقع دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

* **راهرو**: ۵۴ – ۳۵، ۴۹ – ۶۶ (ن): دا د تونج د لویدیځ – شمال لویدیځ په تقریباً ۵ مایلی کې یو کلی دی.

**راجنگ**: ۳۱ – ۳۶، ۱۱ – ۶۷: دا د مزار شریف په سویل کې شادیانو ته نیږدې یو کلی دی. دې کلي کې یوازې د تاجیکانو ۱۰ کورونه دي. (اې. بي.سي.)

* **راخک شور**: ۰ – ۳۶، ۱۶ – ۶۴ (ن): دا یو تنگی دی چې سویل ختیځ ته د قیصار د درې پر لور تللی دی.

**رَشدي**: د عربان یوه ځانگه ده.

**راشبیل سنگ**: ۲۱ – ۳۵، ۵۱ – ۶۷: دا یو لوړ غر دی چې د بلچراغ د کلا په سویل کې راپورته سوی چې د کهمرد په درې کې دی. (اې. بی. سي.)

**راشک: یا: راشق**: ۳۸ – ۳۵، ۱۱ – ۶۷ (ن): دا د صوف په درې کې د قلعـهٔ سرکاري په سویل – سویل لویدیځ کې یو کلی دی. دلته د صد مردې هزاره گانو ۴۰ کورنی استوگنې دي. د همدې کلي په نامـهٔ یوه دره هم له سویل لویدیځ لوري راځي. دا یوه پراخه دره ده چې ډډې ئـې نرم سرځوړوالی لري او ټولو ډډو کې ئـې کرکیله سوې ده. ۲ مایله پورته د «لیلا» کلی دی چې ۲۰ کورونه لي؛ ۵ مایله نور پورته د «زهري» کلی دی چې ۳۹ کورونه لري او له همدې کلي ۵ مایله ورهاخوا د «سرخ دِه» کلی دی چې د صد مرده هزاره گانو ۳۰ کورونه په کې دي. له دهان راشک څخه یوه لاره د بند امیر تر درې پورې تللې ده او ویل سوي چې د هر ډول بار وړونکو څارویو د تگ لپاره عملي او ښه لاره ده.

په راشک کې د کمپ وهلو لپاره ښه ځایونه سته. وابښـهٔ او سون توکي پریمانه دي. د اړتیاوړ توکي هم ورڅخه ترلاسه کیدای سي. د دې ځای استوگن وگړي یو شمیر رمې لري او دلته د کرکیلې پراخه ساحه سته. (امین خان)

**ریگ**: ۲۲ – ۳۵، ۴۴ – ۶۷: دا د کهمرد د درې شمال کې او د باجگاه د غرني تنگ حلق لویدیځ کې یو کوتل دی. ویل سوي چې دا ډیر آسانه کوتل دی او ډیر لوړ هم نـهٔ دی او د اوښانو د تگ لپاره عملي دی. دا کوتل تکتیکي اهمیت لري ځکه له همدې ځایه د باجگاه غرنی حلق بندیدلای سي. دې کوتل ته له سویل لورې یوه لاره راغلې ده، دا لاره له سرپل (کهمرد) څخه ۶ مایله کښته درې کې له عمومي لارې جلا سوې ده او بیا له شمال لوري پر کوتل ورخیږي او بیا د «دورو[5]» پر کلي ورکوزیږي، داسې ښکاري چې د «دورو» کلی دې په هغې تنگې اوږدې ژورې درې کې وي چې د دوشاخ د درې پر لور تللې ده. له «دورو» څخه یوه لاره ختیځ لور ته تللې چې د باجگاه د کلا او «مدر» تر منځ له عمومي لارې سره یوځای کیږي. (میتلند)

**رجنگ: راجنگ**: ۳۱ – ۳۶، ۱۵ – ۶۷ (ن): دا یو کوتل دی چې له شادیان څخه تر ملمول پورې له دوه ټیټو لارو څخه یوه لاره ورڅخه تیریږي. وگورئ: "رفک"

دا لاره د توپچي ځواک د تگ لپاره عملي نـهٔ ده خو په وچه هوا کې اوښان وربانديې تللای سي. کوتل ته بې شمیره ختلې لارې او د کښته کیدلو بې شمیرې لارې د درندو باروړونکو څارویو د تگ لپاره ډیرې سختې دي. په دغو غرونو کې د دغو لارو یوه ځانگړتیا دا ده چې دا لارې معمولاً له هغو شورونو څخه تیریږي چې د مالگینې خاورې بسترونه دي چې خړ یا سور رنگ لري. دا مالگینه خاوره معمولاً په ستوغو ډډو کې وي چې ډیرې اوبـهٔ لري او له باران وروسته بې حده ختې او قچرې جوړوي. په وچې هوا کې د لارې د گاونډ ټولې ځمکې داسې ورستې سي چې تگ وربانديې گران کیږي.

[5] - Duru


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د رجنګ په تنګي کې د میوو بڼونه او تاکستانونه سته، دا تنګي له سرِ آسیا کښته د شادیانو په اساسي درې کې ډوبیږي. لاره رجنګ ته تاوییږي او د یوۀ لنډ مزل لپاره د غرۀ په ډډې کې پر مخ تللې ده او بیا د تنګي په بیخ کې چې تنګ، ډبرین او په بوټو پوښلی دی پرمخ ځي. لاره ثابته ده خو آسانه ده چې د درې په سر کې د رجنګ د کوتل بیخ ته ورخیږي. د کوتل سر ته د یوې ستوغې خو د مارپیچې ډبرینې لارې (چې سخته نـۀ ده) له طریقه ختل کیږي. سرته ختل په پینځم مایل کې کیږي.

له کوتله کښته کیدل د یوې ښې لارې له طریقه کیږي چې ښې لاس ته د غرۀ ډډه کې مارپیچه کیږي او درۀ جل ته ورکوزیږي. د رجنګ د نورو غرنیو ډډو په پرتلې د تنګي ډډې لږ ډبرینې دي. (ای. بی. سي.)

* **ریجان**: ۳۳ – ۳۶، ۱۱ – ۶۷ (ن): دا د شادیانو د شمال لویدیځ په ۵ مایلۍ کې د مزار شریف د سړک پر غاړې یو کلی دی.

نوربیا

**رباط: یا: رباطک**:

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دویم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ